**1-سوال**:دکامن لا حقوقی سیستم دکومو خصوصیتونو لرونکی دی؟

جواب:دکامن لا حقوق دمحاکمو لخوا دمنازعاتو او مسایلو دحل وفصل کولو په اساس مینځ ته راغلی دی.

2-کامن لا حقوق دخپل تشکیل ودی او موجودیت له مخی عمومی حقوق دی

3-کامن لاحقوق داستعمار په اساس رامینځ ته شوی دی.

**2-سوال** :دانگلستان دکامن لا او دانگلستان څخه بهر کامن لا تر مینځ کوم عمده توپیر وجود لری؟

جواب اروپا څخه بهر کامن لا په مکمله توگه لکه څرنگه چی په اروپاکی وجود لری نه دی اخستل شوی بلکې دهغی څخه ځینی برخی اخستل شوی دی

**3-سوال** : دماهیتی له نظره دمسایل حل دکامن لا او روم جرمن په حقوقی سیستمونو کی دکومی مفکوری څخه پیریوی کوی

جواب : دمسایلو حل له ماهیتی نظره دلته او هلته دعینی عدالت دمفکوری لخوا رهبری کیږی.

**4-سوال**: دکمونیستی نظری حقوق پوهانو کامن لا او روم جرمن حقوقی سیستمونه په کوم نوم یادول

جواب په تحقیر امیز ډول بورژوازی (کپیټالستی)حقوقو په نوم یادول

**5-سوال** دکامن لا دحقوقی سیستم پرحقوق باندی دپوهیدو لپاره دانگلیس دحقوق په تاریخ باندی پوهیدل ولی ضروری دی

جواب ځکه چی کامن لا په حقیقت کی هغه حقوق دی چی عمیقاً دخپل تاریخ تر اغیزی لاندی یی نیولی او دکامن لا دحقوق دا تاریخ تر (18)میلادی پیړی پوری دانگلیس دحقوقو په تاریخ پوری منحصر دی.

**6-سوال** دکامن لا دحقوقی سیستم هیوادنو په کومو برخو کی دانگلیس دحقوقو څخه دموډل په توگه استفاده کړی

جواب له یوی خوا اداری او قضای سازمان او له بلی خوا داجراااتو پروسیجر

**7-سوال** دکامن لا دحقوقی سیستم هیوادونه کوم دی

جواب دامریکا متحده ایالات ،مالیزیا، سنگاپور ،بنگلادیش ،پاکستان ،هندوستان ،کامرون ،کاناډا ،ایرلینډ ،نیوزلینډ ،جنوبی افریقا، زیمبابوی، هنگانگ او استرلیا

ترتیب کوونکی : عبدالصمیم «اخلاص»

**8-سوال** ولی دکامن لا حقوقو ته دلوی بریتانیا حقوق نشو ویلای؟

جواب داخکه چی له یوه طرفه شمالی ایرلیند او له بلی خوا سکاټلینډ دمانش جزایر او د ایزل اوف من جزایر دانگریزی حقوقو تابع نه دی

**10-سوال** انگریزی حقوق پوه جوریست ولی دخپلو حقوقو سره مینه لری او په هغه ویاړی،

جواب دا خکه چی دانگریزی حقوق پوهانو شایستگی او دکامن لا دمعقولیت او دزمان له شرایطو سره دمطابقت داسی یوه توانی بولی چی خپل متدام ارزښت یی انگریز ملت لپاره ساتلی دی

**دوهم تمرین**

**1سوال** دانگلستان دحقوقو تاریخ په کومو څلور عمده مرحلو ویشل شوی دی

جواب 1-دانگلوساکسون مرحله چی دامرحله دنورماندانو له تسلط 1066 میلادی کال څخه پخوا دوره وه

2-دکامن لا دتشکیل مرحله چی دامرحله دنورماندانو دتسلط 1066 میلادی کال څخه پیلیږی تر 1485 میلادی کال پوری رسیږی

3-دکامن لا دتکامل مرحله چی دامرحله د1485 میلادی کال څخه پیلیږی تر 1832 میلادی کال پوری

4- څلورمه مرحله د1832میلادی کال څخه پیلیږی تر اوسه پوری

**2-سوال** دانگلوساکسون حقوق کوم حقوق دی او ایا دانگلیس او امریکا حقوق په دی نوم یادو صحیح دی

جواب دانگلوساکسون حقوق انگریزی حقوق دی چی دانگلیس او امریکا اوسنی حقوق په دی نوم یادول صحیح دی.

**3-سوال** په کوم کال کی انگلستان دنورماندانو لخوا ونیول شو

جواب انگلستان دنورمانداو لخوا په 1066 میلادی کال کی ونیول شو.

**4-سوال** ولی دنورماندانو فاتح مشره گیوم انگلو ساکسونی حقوق له مینځ وی نه وړل

جواب داخکه چی دنورماندانو مشره گیوم وویل چی دیو فاتح دحق پراساس په انگلستان حکمرانی نه کوی بلکی ادوارد خستو دوراث په توگه په انگلستان حکمرانی کوی

**5-سوال** ولی په انگلستان دنورماندانو دتسلط دانگریزی حقوقو په تاریخ کی یوه اساسی حادثه گڼل کیږی؟

ترتیب کوونکی : عبدالصمیم «اخلاص»

جواب په دی چی دوی دتسلط له امله دلومړی خل لپاره دقواوو یو قوی تمرکز په اداری محل کی منبخ ته راغی

**6-سوال** کامن لا دحقوقی نظام دایجاد لپاره دعرف او تعاملات راتوولونه په څه ډول صورت نیوه.

جواب دعرف او تعاملاتو راټولونه په دی ډول وه چی کله به شاه دهیواد په مختلفو برخوکی سفر کوه او دمحاکمی ټول اعضا او کارمندان به ورسره وه تر څو دخلکو ترمینځ منازاعات او قضایاوی حل او فصل کړی له بلی خوا ددی محکمی بله وظیفه دا وه چی کوم عرف او عادات چی دانگلستان په مختلفو برخوکی وجود دلود سره راجمع کړی

**8-سوال** دکامن لا اصلاح دکومی کلیمی څخه اخستل شوی او ولی دانگلستان دشاهی محاکمو جوړ شوو حقوقو ته کامن لا وای

جواب کامن لا په انگلیسی ژبه کی common law سره پیژندل کیږی commonمشترک ،عمومی گډ په معنی او law دحقوقو په معنی سره دی یعنی مشترک حقوق او کامن لا حقوقوته ځکه کامن لا حقوق وای چی پواخی دشاهی محاکمو پواسطه نوموړی حقوق ایجاد شوی .

9-سوال دانگلستان شاهی محاکم څه ډول محاکم وه او کومو مسایلو او موضوعاتو دحل وفصل کولو صلاحیت درلود.

جواب دانگلستان شاهی محاکم هغه محاکم دی چی شاه پوری مربوط وه او هغه موضوعات یی حل وفصل کول چی عادی محاکمو کی ممکن نه و

**10-سوال** دوستمینستر شاهی محاکم په کومو دریو څانگو ویشل شوی وه

جواب دخزانه داری محکمه ،دعمومی دعوی محکمه او شاهی محکمه

**11-سوال** شاهی محاکمو ته دعوی په څه ډول وړندی کیده

جواب لومړی به یی صدراعظم ته چی ددربار یو عالی رتبه مامور وه عرض وړندی کوه چی داجازه نامی *writes* دترتیب هدایت ورکړی چی دهغه په وسیله پاچاهی محاکمی ته د ادعا دوړاندی کول امکان میسر شی

**12-سوال** writsپه انگریزی کان لا حقوقو کی څه شی دی

جواب اجازه نامه یا writs په حقیقت کی یو فورم و چی په هغی کی به دشاه لخوا مدعی علیه ته یو حکم موجود وه چی دمدعی غوښتنه پرځای کړی او کنه

ترتیب کوونکی : عبدالصمیم «اخلاص»

**13-سوال** داجازه نامی په فورم کی کوم موضوعات درج کیدل

جواب داجازه نامی په فورم کی به دمدعی شرعت دمدعی علیه شهرت دمدعی دعوی داثبات دلایل او اسناد درج وه

تمرین 3

**1-سوال** دانگریزی حقوقو په دوهمه مرحله کی دکومو عواملو په اساس کامن لا دمشکلاتو سره مخامخ شو

جواب کامن لا چی دپروسیجر شکلی حقوقو په یو کلک شکل کی وده او پرمختگ کړی وه د دوو عواملو له امله له خطرونو سه مخامخ شول چی عبارت دی له یو داچی دوخت له ایجاباتو سره یی ځان عیار نه کړه دوهم دهغه تحجر او رکود له امله چی دکامن لا دحقوق پوهانو کهنه گرای کار په سبب را پیداکیده

**2-سوال** په انگلستان کی دانصاف محاکمو ایجاد عوامل کوم وه

جواب کله چی دکامن لا حقوق په 13 میلادی پیړی کی دپرمختگ باجود له خطراتو څخه خلاص نه شول بلکی دیو لوی مشکل سره مخامخ شول هغه مشکل دا و چی دکامن لا دحقوقو ترڅنگ دانصاف دحقوق ایجاد و

3-سوال دانگریزی حقوقی سیستم په دوهم مرحله کی یو موضوع په څه ډول دانصاف محاکمی ته وړاندی کیده

جواب پاچا ته مراجعه په دی ډول وه چی حقوقی وسیله به لومړی قاعدتاً صدراعظم ته وړاندی کیده صدراعظم چی په عین زمان کی داعتراف پلار او دپاچا دوجدان غم ورسره و کله به چی صدراعظم حقوقی وسیله پرحق وگڼله هغه به یی پاچاته وړاندی کوله او په شاهی شورا کی با پرهغی تصمیم نیول کیده

**4-سوال** دتودور په زمانه کی کوم محاکم دانصاف په تشکیلاتو اضافه شول.

جواب په دی دوره کی دجزای مسایلو په اړه مشهور دستورو محاکمو په نامه محاکم رامینځ ته شول

5-سوال انگریزی حقوقی سیستم په دریمه مرحله کی دانگلستان پاچاهانو دعواملو له امله دانصاف حقوقو ته ترجیح ورکوله په دلایلو واضح کړی

جواب دهغه دوری پاچاهان دعدالت تامین او ښه اداری لپاره دانصاف محاکمو ته ترجیح ورکوله

**7سوال** کامن لا دحقوقو او انصاف دحقوقو ترمینځ په څه ډول مصالحه وشوه.

جواب دیوی قضایی پریکړی په اساس دکامن لا او انصاف دمحاکمو تر مینځ دمتنی حقوقو له حیثه توپیر له مینځ

**8-سوال** دتجارت حقوق په کامن لا کی په کومه پیړی کی او په څه ډول جزب شو

جواب 18 میلادی پیړی په دوهمه نیمایی کی دیادونی وړ یو جریان په کامن لا کی دتجارت دحقوقو جزبول و

**9-سوال** په 1832، 1833 او 1853 میلادی کالونو کی دانگلستان په حقوقو کی کوم ډول اصلاحات رامینځ ته شول

جواب یو مهم ریفورم او بدلون دپروسیجر په حقوقو کی په 1832، 1833 او 1853 میلادی کالونو کی مینځ ته راغی ځکه انگریزی داجرااتو حقوقو تر دی وخته پوری مجبوره و چی دادعاگانو په ټاکلی چوکاټ کی پرمختگ وکړی له دی وروسته انگریزی حقوق پوهان دزاړه پروسیجر له ولچکو ازاد شول

**10-سوال** په 1873، 1875 میلادی کالونو په دوران کی دانگلستان په حقوقوکی کوم ډول تغیر مینځ ته راغلل

جواب دمحاکمو دتشکلاتو په برخه کی په 1873، 1875 میلادی کال کی دیوی قضایی پریکړی په اساس دکامن لا او انصاف دمحاکمو ترمینځ دمتنی حقوقو له حیثه توپیر له میځه لاړ وروسته له دی انگریزی محاکمو دا حق درلود چی دکامن لا یا انصاف قواعد یا نورمونه دواړ استعمال کړی

**11-س وال** 19 میلادی پیړی دقانون گذاری پرمختگ کوم ډول تاثر په انگریزی حقوق وارد کړه

جواب په 19 او 20 میلادی پیړی کی هم لوی بدلونه په انگریزی حقوقو کی راوستل دحقوقو مهم ریفورم او دحقوقو دمدونیدو کار په 19 میلادی پیړی کی تحقق وموند .